ستا په بې علمه ، بې عمله وعظ به نشي په خود
په سد به ، هله شي چې واوری د نیشو خبری
اشنا مذهب کی نوی لاری را ته مه جوړوه
نوری سنمه ستا په ستر گو په لیمو خبری
مقصد دې څه دې لدې هسکو تیټو څه غواړی ته
په ښکاره وایه ما ته مه کړه گنگړو خبری
ما پیژندلی ئی اوس پوه یمه چې څه څه یې ته
که هر څو وکړی په قسم او سوگندو خبری
چې په خیسره او په خبرو ئی ونه غولیږی
ډکی له دروغو او تزویر دی د هغو خبری
اخر به ستا دا زور او زر گوره او به او به شی
دړنه کوم ستا د عزت او د آبرو خبری
څنگه شم ستا په خیانت باندی خائنه غلی
دا څه کوی د څه ناخوالونا دو دو خبری

غلی بـه نشي څو د ظلم ستـه ونـه باسي
د حق اوزانه مني هیڅ د چوپ کیدو خبری

ظالم خائن به ډېر ژر ډوب کا د خپل قهر په سیند
دادي د وینو د بهیر او طوفانو خبری
چې یې اخته کړلو په خپلو کې له یو بل سره
دا وی د ډلو او ګوندیو او حزبو خبری
هر څه به سم شي خو که سمه شي یوه کړ لیچه
چې شي اواری د نفاق او تفرقو خبری
بیله یوالی سر منزل ته رسیدلی نه شو
را څی نور پریږدو د بیلوالی د تیرو خبری
زه خوه دا ستا په اشنایي او پښتو ډېر نازیدم
څه شوی ها ستا د پښتو نوالی د وعدو خبری
شو له څرګنده چه پښتو دی کړ له لاندی تر پښو
وی ستا خبری د تزویر او غولیدو خبری
د سیاست د قید او بند او کشمکش نه تو به
نه سی دې خوښې د تزویر ، د تماشو خبری

زړه اشنا نوی لخری دی بیا را واخستلی
څنګه شوی ستا د نه راتلو او د راتلو خبری ؟

چې مې ليدل د حق د مېو ستا نه خوبونه
اوس به خود ګالمه دستونزو شو ګيرو خبرې

د نهيلۍ څپو مې ما ته کړه د هيلو بيرې
اوږ دې شوې ډيرې د ساحل د رسيدو خبرې

ډېر لوړه شول د ستم او استبداد په اور کې
(خو) چا ته ارزښت نلرې دا دسوځيدو خبرې

نه د چا زړونه شول دردمنده ستر ګو او ښکه توې کړه
که هر څواوري په خپل څنګ کې د زګيروو خبرې

هيچا يې او ښکې پاکې نکړې د لاساې نکړ
په مظلومې ئې لا کوي د خنديدو خبرې

د ويړ او وينو اور لمبوکې د راګيرور خلکو
وانه وريدلې چا په زړه نه په غوږو خبرې

ما وې که نور څه نه وي او ښکې به مې پاکې کاندې
خو لاد داغ په سر شو ، داغ د کور بنو خبرې

لاې پرزخم را نه نورې مالګې و شيندلې
را سره ونکړې هيچا د تسلو خبرې

شرق او غرب دواړو ستا خلاف ده جوړه کړې لوبه
نه يې خبر که ندې داد خبريدو خبرې ؟

د دغو دوا‌ړو ړپنکیلاک ده سره گډه لاره
له یوي خولی دي د (شمیر[1])او د (کاسترو[2])خبری
هدف یې گډ اصل یې یوتنها د رنگ توپیر دی
یوبل ته ورته دي د(شولتز[3]) او (گرومیکو[4])خبری

نوره دنیاي شوه په تاوکی لو لپه زړه خوړینی
خو ختمې نشوی د «وارسا» او د «ناټو» خبری
توپیر ورک شوی د پیلو نا پیلیو ترمنځ
اوس دي طرف د نا پیلو هیوادو خبری
بې طرفي ئې شوه طرف د ورځو شپو اوږدوکی
رسي به چیرته کوم طرف ته د «نهرو» خبری.

«چې سره وحیشان سی پر وطن باندی یرغل ونکړي»
وي څنکندن کی گرد جهان ته د «تیتو[2]» خبری

۱ــ د اسرائیل صدر اعظم .

۲ــ د کیوبا صدر .

۳ــ د امریکا خارجه وزیر .

٤ــ د روس خارجه وزیر .

هسی یو څو د خولی خبری د نظر حساب دی
دا د ژینو او د ملګرو ملتو خبری
د «ویتو» غبرګا هره پریکړه پسر او بوګر ښه
که هر څوو شی د زور ګیرو دوتو خبری
هیچاسو او ښکی پا کی نکړی سترګو مه ژاړی نور
زړګیه بس کړه نور د سویو اسویلو خبری
د بل په خو له څه فیصله سی سر نوشت نه سنی
وطن سی غواړی چی د توری په تیرو خبری
نی له جهاده بله لارمو د خلاصون نشته ده
هلته خودی د جابرانو د «ویتو» خبری
له خپلی سوخی به وانه وړي هیڅ د عشق لیونی
تر غوږئی څله تیروی د زولنو خبری
د مرګ په کوسی کی یی هم د حق آواز پری نښود
هیری به نکړمه د هغو میړنو خبری

۱ـ د هند نامتو مؤرخ او د نا پیلیو هیوادو د کنفرانس له موسسینو څخه .

۲ـ تیتو د یوګوسلاویا پخوانی صدر او د بی طرفه هیوادو د کنفرانس مؤسس .

خیر دی خزان به هم زغممه د بهار په میڅه
که خدای (ج) کول لري خزان د پسرلو خبری

د سره غلیم چی رسوائي او بربادي ده پکی
د وطن تړوکی د ننګ د سنګرو خبری

د ارادو مخ ته یی تیټ دي د ټانګو سرونه
چا اوریدلی دی د داسی حماسو خبری

چی په خالي لاس په ټانګونو په توپو ور دروسي
خوند کوی خوند د هغو کلکو ارادو خبری

د زمانی فرعونان نغاړي تند موجونه به یی
د قربانیو د سرو وینو د څپو خبری

هلته هم غبر دی د همت د هیبتناکو چیغو
دیٔ ننګ غیرت می د وطن دا دیرو خبری

ده فلسفه خو که یی څوک لبر څه په غور واوری
د ببر سرو ، ګریوان ، څیرو لیونو خبری

❀ ❀ ❀

وزرسی سات زخمی زخمی یم الوتلی نشم
(خو) ژوندی می ساتي د پرواز او الوتو خبری

کاروان به رسي خو جفا سی د سالار ژړوی
دادي د لاری د هدف د قافلو خبری
اخستل کیږی انتقام به د مظلوم ملت سی
دادي گوټ گوټ کی د هیواد د پرگنو خبری
بیا تازه شوی سپر میغی دی ظلم زور به سیځی
دادي د ظلم زور خلاف کی د ایرو خبری
یقین سی کیږي چی د شپی گریوان به زرځیری شي
گرځی د شونډو په سرونو د سپیدو خبری
ربیدار شوی یم نغمه د بیداری غږوم
لور ما ته مکړه د جمود او ویدیدو خبری
د میخانی ترځنگ یی ویستي دی جلوس د مینی
چا ورته کړی د ساغر د ماتیدو خبری

څوک به د حق په مینه مست او هم سرشاره گرځي
چا ته به بنی ښکاري د میو د کاسو خبری

څوک به د زلفو په تالونو زنگیدل خو ښوي
د چا به خو ښی وي د دار د کشالو خبری

د چا په وينو به وي ځمکې سره خالونه اينبې
خو څوک به اوس هم لا کوي د شنو خالو خبرې

که غواړې حق د زنګانه پر آئينه سر کيږده
درته په سخ کې دي په دار د ځړيدو خبرې

سر هغه سر دی چې له دين او له وطنه ځار شي
ښايي له سر سره د تورو او نيزو خبرې

سر ورکول را ته اسان دي هيڅ پروا مې نشته
خو را ته ونکړې د سر د ټيټيدو خبرې

د حق له مينې او اظهار نه به لاس وانخلمه
ما هيرې کړې پدې لارکې د توبو خبرې

هرځای چې ولاړم لا مې درد شولو سوا «ننګياله»
چا را ته ونکړې د زخم درفو خبرې

د شاعر نور آثار

۱ـ په افغانستان کې د کمونستانو قدرت ته رسیدل — چاپ شوی

۲ـ د افغان مجاهد آواز — چاپ شوی

۳ـ د افغانستان سیاسي احزاب — چاپ شوی

٤ـ د مجاهد پیغام — چاپ شوی

٥ـ په افغانستان کې روان اسلامي جهاد، چاپ شوی

٦ـ خبری — همدا اثر

۷ـ مجاهد لیکوال — چاپ ته تیار

۸ـ شخصیتونه او خبری — چاپ ته تیار

۹ـ خاطری — چاپ ته تیار

۱۰ـ د حضرت محمد ﷺ د زماني لیکني، چاپ ته تیار

۱

خبرې

په زړه را اوري څو خبرې د يادو خبرې
څو پرونی ، څو ننی د بدو ، ښو خبرې

نـه نغمه او ترانه د خوشاليو د ژوند
دي د حسرت او د څو کړيکو او دردو خبرې

لږ حوصله غواړي ملګرو چې خپه پرې نشئ
واورئ په غور، د درد منو زړو يو څو خبرې

خيردی لږغوږ شه ورته ، وائی وره د زړه په غوږو
خاطر دې مه درنوه،دي د څو لحظو خبرې

جوړ حقيقت دئ د ويرژلی حال انځوريی ګڼه
ندي يوازی د جذباتو ، ولولو خبرې

زما گیله ده له خپل ځانه ، زه خپل ځان ته وایم
خیر که ستا په نوم کوم څو د ګیلو خبری

❀ ❀ ❀

مرګ یی لسده د حق آواز یی له خولی لیری نشو
لیرکړه در یا دی د (بلال) د تکبیرو خبری
رهبری هغه وه «احد» کی چی کوله رهبر «صلی الله علیه وسلم»
یو څه به زړه کړه د هغه سختو شیبو خبری
هجرت یی لاره کړه هواره د مکی د فتحی
نه وی د تیښتی یاد سر د پټیدو خبری
«مدینه» جوړه کړه اول چی بیا «مکه کړی فتحه»
د عبرت لوست دی د تیر برم دور څو شپو خبری

❀ ❀ ❀

د ننګ خبری له غلیم سره د جنګ خبری
وی د تور زنو ننګیا لیو پښتنو خبری
موږ هیری کړی خو تاریخ یی پخپل یاد کی ساتی
د «سومنات» او «پانی پټ» د کارنامو خبری

د خلکو زړونه هم هغه شان په غور ځنګ را ولی
که هر څوک ولولی د دوی د خاطرو خبری

د غلیم خو نه باندی را شي زلزله چی وا وری
د هغه برم ، د عظمت د منارو خبری

که هرڅه هیرشي خوتیرشوی عظمت مه هیروی
چی دا خبری ندي هیڅ د هیریدو خبری

ښې مې یا دیږي د پرون دي ډیری ښری ندی
د یو خوا خوږي او درد مند د ارمانو خبری

چی حق ته حق ، باطل باطل ته یی په جار ویل
نه وی هغه د پټپټوني اشارو خبری

چی د حق لارکی یی د حق آواز په خولد ؤ مدام
د ټینګ ایمان او د کلک هوډ او حوصلو خبری

چی لا تراوسه د ظالم او خائن زړه لړزوی
هغه د زړونو د غور ځنګ او در زیدو خبری

چی د باطل د پلویانو ترینه زړونه چاو دل
وی د ریښتینو او سپیڅلو پاکو خولو خبری

د هر با درده ، با احساسه کړیدلی انسان
د مظلومانو ، حق پرستو وی د زړو خبری

څه شول درانه خویونه پښتني زمونږه
څه شوې خبرې د پګړې او د شملو خبرې
څه شوه «چیغه» چه را غونډېده ؤ پرې ټول پښتانه
څه شولې څه شوې ؟ د جرګو او مرکو خبرې
اوس خو په غاړه کې را پریوتل هر څه د پردو
هیرې له موږه څخه شولې د درنو خبرې
هاد «میرویس» او «احمد شاه» او د «محمود» کارنامې
څنګه کړې شاته موږ د پلار او د نیکو خبرې
له خپل مذهب او له پښتونه هومخ وګرځاوه
غوږ کې دي ټینګې سوې نیولې د پردو خبرې
چې د پردو د اسارت لوموکې ښکیل شولو اوس
دا څه را و شول ، خدا یه دي د ژړیدو خبرې
بیادې په نوي از مویښت کې خدایه وا چولم
په غوږو اورم د نا خوالونا کردو خبرې

اوس دا څه وایو دا څه اورو؟ دا څه وینو موږه؟
اورو هغه چې نه دي وږ د اوریدو خبرې

چې د پښتو او ننګ په تیرو ئې سینه وهله
اورو له خولو نه د هغوې للوپتو خبرې

چې د «ننګ کارکی له اټک ترکندهاره یوؤ»
هلته خونه زی نا ممکنې د کېدو خبری
اوس یو دردیږي، خوبل ځان قدری پری نه پوهوي
ښاي چه نه لګي پری ښې به د غمو خبری
نه خوا خوږی شته نه د یو او بل په درد درمندي
مناسب ندي د زار حال مود لیدو خبری
د حق ویل به ؤ د خدای(ج) او د رسول(ﷺ) لپاره
خو اوس خرڅیږي په دولت او په پیسو خبری
بې قیده، شرطه به اظهار د حقائقو کیدو
نوی پابندی د کوم قید، کومو شرطو خبری
چا کوم خائین ظالم ته ونکړه ربنتیا خبره
(شف ، شف) کوي ونکړی چا د (شفتالو) خبری

د قرآن لار موده پری ایښي یو روان په نورو
ځکه را جوړی شوی د ورانو ما شورو خبری

دغه مو حال شو چې پنجوکی د پردو ایسار شوو
هرځای مو کیږي د مظلوم ژوند د تر خو خبری

اوس هم تقلید نه د پردیو لا اوښتي نه یو
دادي د شرم خجالت ، تیتوکتو خبری
د لباس مینی اخلاص او صداقت تر پردی
هسی دي پتی د تخریب او توطئو خبری

✻ ✻ ✻

د ښتیانی مینی د زړه خوا له که اوری گوره
د حال په ژبه د پتنگ او د ډیوو خبری
د کربلا صحنه ده بیا پر مسلمان راغلی
د ظلم زور او استبداد او د نیزو خبری
د آسیا زړه سوری سوری تپی په سرو وینو کی
وینی او اوښکی دي د کلیو او کورو خبری
جنت نظیر وطن می سرو او رونو وسوځاوه
لوگی لوخړی دي د ښکلیو ښنو درو خبری
گل پانی پانی ډنډر سات څانگی شوی توری ایری
فریاد ، کوکاری دي د گل او د اغزو خبری
سور اور پری بل دی او له کانو یی بنونه ډیرشول
لړی می واوری د وطن د غرو رغو خبری

یو خوا ته چیغی د تکبیر بل خوا د ډزو آواز
دي پل په پل سی د وطن د سر درو خبری
څمکه ده اور ، آسمان کی اور ، له هوا اور وریږي
په هر طرف کی دي د او بنکو او لمبو خبری
انسانان چوپ دي د مظلوم په حال هیڅ هم نه وایي
له هری خوا اوریدل کیږي د ټانکو خبری
لیغ جګ سرو له شول خوراک د فولادی ټانګونو
«هل من مزید» دي د ټانګونو د چینو خبری
کورونه وران کا ابادی ورانی ویجاړی کاندی
دادي د توپ او د نیپالم او د جارو خبری
د ماشومانو او تور سرو بوډاګانو زګیروي
دي پر ځونو د ویجاړو کندوالو خبری
په خاورو شګو کی یوه او بله خوا پراته دي
نشته د ناز او د بستر او د زانګو خبری
سرونه هسک دي سینی سپردي د ځوباران ته
اوس هر چا واوریدی د اور د اوریدو خبری
لوخړی خیژي له سرونو نه د حق پر انګار
اوس هیری شوی د «بدر او» او «سپیلنو» خبری

غوښه د اور په مقابل وینه د او سپنې کې
عالمه واورئ د ایمان او عقیدو خبرې
خیر دی که حال د مظلومی خپله ویلی نشی
دي افسانې یې د زندان د پنجرو خبرې
په «سرجیکل»[۱] او «تکنیکل»[۲] او په «تهکال»[۳] کې گوره
د سری بوټی په خیر پرا ته د غوښو سرو خبرې
نیپام بمونو سوځولی ئی دي ښکلی ښیری
را شه که اورې د بې لاسو او بې پښو خبرې
د آزادۍ او د غیرت او د تکبیر انگازې
دي د شهید په گور، د ننه د زخمو خبرې
هله هم وایي «درنه خلاص گورئ دښمن چې نشي»
د شهیدانو د سپیځلو جنازو خبرې
په هر ماښام بلې ډیوې یې په قبرونو گرځي
د حال په ژبه دي، همدغه د قبرو خبرې

خبرې ښې دي بیا هغه خبرې ډیرې ښې دي
چې وي خبرې خو په خوله د پر هرو خبرې

❀ ❀ ❀

(۱) (۲) (۳): د افغان مجاهدینو روغتونو نه

اشنا له زړه می فواری د وینو داری وهـي
ته لا اوس هم را ته کوی د ناز نخرو خبری

که په ښکاره نشي ویلی حقیقت د مینی
خیر دی کوه را ته په سترګو په بڼو خبری

ما ته دي او ښکی په رښتیا له ملغلرو ګرانی
ځکه کوده د زړا په بدرګو خبری

څوک به پری خاندي او بیا څوک به لیونتوب ګڼي دا
خو ما ته وادي د غمونو الدیڼو خبری

هسی با بیزه یی ګڼلی چا پری غوږنه نیوه
په یو مرکز می دولس د غوندیدو خبری

کړو ارمانجن ئی په رنو سترګو د تیرو ورځو
خود ، را ته ښی بریښي د تیرو زمانو خبری

که می فریاد ستا په غوږونو باندی ښه نه لګي
خیر دی ، لږ اوره می د اښکو د تسپو خبری

❀ ✶ ❀

د فضیلت محک عمل دی ژوندانه کی اشنا
نه چی د تشو اداګانو قلقلو خبری

خبـرې

❁ ❁ ❁

ما هسې د چا په یاد کې څه ویل غوښتل ـ او په همدغه تکي مې خـبرې پیل کړې ـ خو څرنګه چې قافیـه او حساب د خبرو ؤ ، نو د هغه مشهور متل په بناء چې «خبرې له خبرونه پیدا کیږي» د لته هم دیرې خـبرې ترې پیدا شوې او خـبرو پخپله خـبرې حورې کـړې ، چې دادي هغه ټولې خبرې ستاسې مخې ته ږدم .

زه پخپله دامنم چې زما «خبرې» به د بلاغت ، فصاحت او نورو ادبي معیارونو او تلازماتو ، له اړخه کمزورې وي ، او دیـرې خامې به لري؛ خو د احساس او درد پله یې درنـه ده هیله ده تاسې یې هم په همدې نظر وګورئ .

په مینـه

«شهرت ننګیال»

دا خبری

ستا خبری دي اشنا زما خبری
زما د سوی زړګي غږ دی ستا خبری

هر چی وایی زما د زړه له حاله وایی
زړه ته لار لری رښتیا چی دا خبری

«پون»

★★★

سناخبری

وروره خبری دې په گل بدلی
راته کوه دا سویلو خبری

موږ د پې مخو د ستایلونه یو
موږ به کوو د سپیرو خولو خبری

د انقلاب نغمه به گرسه ساتو
کړو به اشنا د ولولو خبری

زموږ وینا به د ویښتوب وینا وی
نه د للی نه د للو خبری

❀ ❀ ❀

ته چې د تیر پرتم خبری کوی
ما ته هم بیرم د پرون یادیږی

ته چې پرهار ته سوي چيغې وهې
ما ته د سره سنګر لړمون يادېږي
ستا د خبرو بلا واخلم اشنا
ترې مې دويار پرتم مضمون يادېږي

مونږ به غندو دغه د ظلم تيارې
ترڅو به دا الون للون يادېږي

❁ ❁ ❁

ځان به له تانه کړم لوګی شاعره
چې د اغيار پرتا نظر نه لګي

ستا په وينا چې کوم ګوزار کيداې شي
هسې ګوزار هم د خنجر نه لګي

هغه به زړه نه وي ډبره به وي
چې ستا د چيغو پرې اثر نه لګي

تــه د توپان یو طغیانی څپــه یی
په تا خوبونــه د بستر نــه لګی

❀ ❀ ❀

ته د روښانــه مستقبل زیــری یی
ظلمت کــدی دی ړوبـولای نشی

تــه د ولس یو ارمانی چیغـه یی
دا ظالمان دی چوپو ولای نشی

ته د میرویس نغری کی بله لمبـه
هر سوړ خزان دی سړ ولای نشی

ته پرمخ تلونکی وړاندی تلونکی غورځنګ
خس او خاشاك دی تمبولای نشی

❀ ❀ ❀

ته تل د تندر او توپان په ژبه
کوه د شور او زلزلو خبری

نو :-

اشنا خبری دي په گل بدلی
کوه کوه د اسویلو خبری

مونږ د پی مخو د ستایلو نه یو
مونږ به کوو د سپیرو خولو خبری

«عصمت قانع»

۱۶ جمادی اول ۱٤۰٤

خبرې

شهرت ننګیال
۱۳ ۶۳
حمل

خبری

شهرت ننگیال

۱۳۶۳

حمل

بسم الله الرحمن الرحيم

اهداء

خپل محترم کاکا (تره) ته چې زه يې روزلی يم -
لوست يې را بانـدې کړی ، د ناروغۍ پروخت يې
را سره شپې رڼې کړې ، د اړتيا وو په پوره کولو
کې يې را ته منډې ترړې کړې - پرخپګان مې ژړيدلی
او پر خوشالی مې خوښ شويدی .
لوی څښتن دې يې عمر اوږد او په تن روغ ولري .

شهرت ننګيال

د قصیدې په

د باغي حضرت ښکیال کره ورته چه وګورو. نو ده توقع نه شوکړای چه ددا نو غزل دي
په دې شعر کې دګړکې د نجو او پیدا کانو د غرانو نه هم د عالي افکار و جشن ولمانه
مانه په دې نظم کې د دولت نه هم دا صیغه هم نه ګوره غرضي ورته

نو یو عزم چه دا نظم نه قصیده وواېم نه د اسلامي ملت مره مره د پښتون ملت
مرثیه یا نوحه ګرم. ددې نظم د مطالعې نه پس زما په ذهن کې د مولانا حالي مرحوم
مسدس وګرځیده. ګوم چه هغه مرحوم د عالم اسلام د پستۍ نه ګلاه او اسارت
په هکله لیکلی وه. خو د حضرت ښکیال دا نظم مسدس نه دی. هغه اګر ګر یې د
قصیدې وي. که څه هم په دې کې تشبیب نه دی تو دعا هم شته. خو چه دا دغه قصائد
چه شعراو د کوم بادشاه یا امیر په تعریف کې ویلي. نو د بادشاه یا امیر نه خو
به د هغه افزایش د دا انعام توقع لري. خو په دې عصر کې د بادشاهانو او امراو قصې
ختم شوې دي. نو بیا هم د قصائدو سلسلې ورته هم بدل شوې ده. او ددې قصیدو نمونې
د زمانې د ریبوا عبدالقادر خټک کړې ده. شاعر په هغه عصر کې په دې شعر چه کوم کتاب
یا ځل ترتیب کړي مصنف کاوه. نو په دې د هغه صفت د بادشاه یا امیر تعریف او توصیف
د هغه ترتیب په اقتدار کې وه. خو عبدالقادر خټک په اقتدار کې د غني ښکیال بابا خوشحال خان
خټک په مدح او صفت د ابتدا کړې وه.

د نظم یا قصیده چه زمونږ د نورو پوهانو په ګمان ښکلې ده. هم دغه شان ښکلې ده که نه زیاته
د مضمون د ښکلې لارې به هغه شعر منظر دی. او په دې کې نه یواز سپین افغانستان کې د وطن
ناکرده په دې د افغان ملت د بودا ګانو قرآنانو تیښتو او ماتو نه د حالاتو نقشه راښکلي
شوې ده. بلکه د ملي راتلونکي مستقبل ښودونه یې هم کړې ده. څو نه په دې ځای د
د قصیدې د ځانګړتیا د ښکاره کېدو نه یې بائل شوې ده. نو د دوست نه پس چه په قادر ګوم
نامه مرتب کړې هغه د ملي مستقبل ته اشاره ده. او دا مستقبل په دې قصیده کې ښه تعریف
د هیره ښه ده. موږ خوښ یو چه د حضرت ښکیال د قلم نه هم دغه شان ډېر شي.

محمد زمان مزمل

دا قصیده

د ښاغلی شهرت ننګیال کړه وړه ته چه او ګورو ـ نو دا توقع نه شو کولئ چه دا نوخیز زلمی به د شعر په ډګر کی د پخو او بوډاګانو شاعرانو نه هم د عالی افکارو څښتن وی. ما یې دا نظم چه او لوست نو هم دا فیصله می وکړه لکه چه می وویل.

نه پوهیږم چه دی نظم ته قصیده ووایم که د اسلامی ملت سره سره د پښتون ملت مرثیه یا نوحه ووایم. د دی نظم د مطالعی نه پس زما په ذهن کښې د مولانا حالی مرحوم هغه مسدس وګرزید. کوم چه هغه مرحوم د عالم اسلام د پسماندګی او اسارت په هکله لیکلی وه؛ خو د شهرت ننګیال دا نظم مسدس نه دی ځکه اکربکریې د قصیدی دی، که څه هم په دی کښې تشبیب، ګریز او دعا نشته، ځکه دا ډول قصاید به شعراء و د کوم بادشاه یا امیر په تعریف کی وئیل او د بادشاه یا امیر له خوا به یې د حوصله افزائی او انعام توقع لرله؛ خو په دی عصر کی د بادشاهانو او امراو قیصې ختم شوی دی؛ نو باید

چه د قصایدو کړه وړه هم بدل شوی وای او د دی ابتدا غالباً د نن نه ډیر پخوا عبدالقادر ختك کړی ده ځکه چه په هغه عصر کی به شعراؤ چه کوم کتاب یا بل څه اثر تصنیف کاوه ؛ نو به یې د هغه وخت د بادشاه یا امیر تعریف او توصیف د هغه اثر په ابتداء کی کاوه ؛ خو عبدالقادر ختک په ابتداء کی د خپل ننګیال بابا خوشحال خان ختک په مدح او صفت ابتداء کړی وه .

دا نظم یا قصیده چه څرنګه د شعری لوازماتو په ګانه ښکلی دی ؛ هم دغه شان بلکه د دی نه زیاته د مضمون د سپیڅلتوب په هکله شته منه ده . او په کی نه یوازی په افغانستان کی د روسی تا کړدو په وجه د افغان ملت د بوډا ګانو ځوانانو ښځو او ماشومانو د مصائبو نقشه را ښکلی شوی ده ؛ بلکه د ځلانده او کامیاب مستقبل ښو د نه یې هم کړی ده ؛ ځکه نو په دی لحاظ دا قصیده د قنوطیت د ښکار کیدونه بچ پاتی شوی ده او د لوستونه پس چه په قاری کوم تأثیر مرتب کوی هغه د ځلانده مستقبل زیری دی او زه امید کوم چه د دی قصیدی اغیزه به ډیره ښه وی . لوی څښتن دی د شهرت ننګیال د قلم زور نور هم زیات کړی .

حمزه «شنواری»